**بسم الله الرحمن الرحیم**

## ستاسو د ۲۰۱۸م کال کړنې په دې دلالت کوي چې په ۲۰۱۹م کال کې به يې بيا تکرار کړئ



**(ژباړه)**

### خبر

ولسمشر رجب طيب اردوغان په يوه پيغام کې د امريکا ولسمشر دونالډ ټرمپ، د روسيې ولسمشر پوټين، د انگليستان لومړي وزير تريزامي، د فرانسې ولسمشر ماکرون ايمانول، د چين ولسمشر شي جېنپينگ او د هند لومړي وزير نريندرامودي ته د نوي کال مبارکي وويله. اردوغان د نوي کال په پيغام کې خپل امريکايي سيال ته د «محترم ښاغلی ولسمشر او زما گران ملگری» کلمې وکارولې او ويې ويل: «تېر کال ترکيه او د امريکا متحد ايالات په خپلو ډېرو ستونزو بريالي شول او د دوه اړخيزو اړيکو د جوړولو لپاره يې له خپلو غوښتنو سره سمې پراخه هڅې وکړې.»

(سرچينه: http://www.haber7.com/siyaset/haber/2795595-erdogandan-trumpa-yeni-yil-mesaj)

### تبصره

له بده مرغه چې اردوغان يادو شوو کافرو امپرياليستو ولسمشرانو ته چې په اسلامي خاورو يې تېری کړی، مسلمانان يې وژلي او ظلم يې پرې کړی؛ د نوي کال په پيغام کې په دې ټينگار کړی چې د گډو هڅو او

ستراتیژیکو موخو په پراخوالي سره به د متقابل احترام او ربښتینو خبرو پر اساس دوه اړخیزې اړیکې پرمختګ وکړي.

خو ترکیې له امریکا سره په ۲۰۱۸م کال کې او هغه وړاندې کومې ګډې هڅې کړې؟ د خلکو او بشریت لپاره یې کوم ښه کار کړی؟ له امریکا سره د ستراتیژیکې ملګرتیا پایله څه ده، چې عامې ټولنې او د ترکیې خلکو ته یې وړاندې کړې؟ تاسو ووایاست، تر اوسه امریکا د ترکیې کومه ستونزه حل کړې؟ د خپل قدرت د ساتلو لپاره ولې له دا ډول فساد سره مخ شوي یئ؟

ایا په سوریه کې د روسیې عام وژنه چې له ۲۰۱۵م کال راهیسې دوام لري، نه وینئ؛ هغه حالت چې په ۲۰۱۹م کال کې یې لاهم دوام غواړئ؟ ایا له هغه څه خبر نه یئ، چې چین یې د ختیځ ترکستان د اویغور له مسلمانانو سره کوي؛ په داسې حال کې چې بیا هم د خپلو بې ارزښتو سوداګریزو تړونونو دوام ته لېواله یئ؟ ایا داسې څوک شته چې د انګلیس او فرانسې له امپریالېزم څخه خبر نه وي؟ په داسې حال کې بیا هم له دوی سره خپلې ملګرتیا ته دوام ورکوئ؟ هغه څه مو هېر کړل چې یو وخت د هند حکومت (د اسلام دښمن) له کشمیر سره وکړل او اوس ورڅخه دا ډول غوښتنه کوئ؟

کله چې له ۲۰۱۸م کال څخه وړاندې ځیر شئ، څه وینئ؟ د ۲۰۱۸م کال کړنې مو په دې دلالت کوي، چې په ۲۰۱۹م کال کې به یې هم وکړئ. اوس یو ځل ۲۰۱۸م کال ته کتنه کوو:

اسلامي هېوادونه له سختو ظلمونو او شکنجو سره مخ شول. د مسلمانانو وینې په ویالو کې بهېږي او وچې ځمکې خړوبوي. د کفارو او د دوی د مرستیالانو چټل لاسونه د مسلمانو ښځو عزت ته ورسېدل. د امپریالیست کفارو لخوا د مسلمانانو بې عزتي، د دوی د پانګو لوټل او پر دوی ظلم کول به روان کال هم دوام ولري. لنډه دا چې ۲۰۱۸ له ۹۵ کاله وړاندې سره هېڅ توپیر نه لري، هغه کال چې خلافت پکې له منځه لاړ. د اسراء او معراج سپېڅلې خاوره چې د مسلمانانو لومړۍ قبله ده، تر اوسه یعنې تر ۲۰۱۸م کال پورې د صهیونیستي دولت په اشغال کې ده. صهیونیستي دولت د فلسطین په هره برخه تېری او ظلم کوي. کبرجن متحد ایالات بیت المقدس ته د خپل سفارت په لېږدولو سره د اسلامي خاورو له ډارنو چارواکو څخه جرات واخیست.

د سورېې خلکو یو بل کال هم په داسې حال کې تېر کړ چې د بمونو غږ د عامو له چیغو او ستاسو د مننې له غږ سره چې له خپل ملګري روسیې څخه مو کوله، ملګری و. هغه کسان چې ستاسو په لارښوونه یې له انقلاب سره خیانت وکړ، په ۲۰۱۸م کال کې ډېر بربنډ شول. تاسو ویل چې د سورېې د انقلاب په څنګ کې یو، خو لاسونه

مو د اسد رژیم ته په لاس کې ورکړل. له دې وروسته انقلاب د يو شمېر مسلمانانو او سوريايي خلکو له ملاتړ پرته يوازې پاتې شو. دا د ميانمار لپاره د ناهيلۍ، د ختيځ ترکستان لپاره د يوازيتوب او د د ټولو اسلامي خاورو لکه سوډان او ليبيا لپاره د غچ اخيستلو کال و.

د ترکيې لپاره ۲۰۱۸م کال هم بل ډول نه و. د انګليس پارلماني نظام خپل ځای د امريکا رياستي نظام ته پرېښود. تاسو ويل چې د رياستي نظام په راتګ سره به هر څه سم شي او خلک مو په دا ډول دروغو سره وغولول.

په همدې توګه، بيا مو هم مخلص مسلمانان وځورول. تاسو هغه کسان چې خلافت غواړي په ناعادلانه او ناقانونه محکمو سره زنداني کوئ، په داسې حال کې چې د برونسون کشيش مو يوازې د ټرمپ په غوښتنه امريکا ته وسپاره.

لنډيز: که چېرې ۲۰۱۸م کال ته پام وکړئ، هېڅ داسې قضيه به ونه وينئ چې په هغې کې د امت خير وي. د دې لپاره چې اسلامي امت ټوټه ټوټه شوی، نو دا امت داسې يوه خليفه ته اړتيا لري چې پولې، لښکر او پانګې يې سره يو ځای کړي. هيله من يو چې ۲۰۱۹م کال د اسلامي امت د ستونزو د حل کال وي، هغه کال چې په راتګ سره د امت له دبدبو څخه ډکې ورځې اعلان کړي. هغه کال چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دولت پکې يو ځل بيا نړۍ ته را وګرځي. هيله من يو چې په دغه کال کې د توحيد لوا اسمان ښکلی کړي، خيانتکار حکومتونه په پرله پسې توګه له صحنې بهر شي او امپرياليست کفار د ځان پټولو لپاره د يو ګوښه ځای په لټه کې وي. الله سبحانه وتعالی ته دعا کوو چې په ۲۰۱۹م کال کې دويم راشده خلافت تاسيس شي. باوري اوسئ، ځکه دا کار د الله سبحانه وتعالی لپاره ستونزمن نه دی.

**محمد کار**

**د حزب التحرير-ولايه ترکيه مطبوعاتي دفتر رييس**

**۱۴۴۰هـ.ق، د ربيع الثاني ۲۹مه**

**۲۰۱۹م، د جنورۍ ۵مه**

**ژباړن: منصور دريځ**